


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !



# پروفیسور عبدالله بختاني « خدمتګار »

د نشر نیته : 26 فبروری 2023 میلادی

# د سولې او تفاهم دلیارې مبلغ دوکتور سعید افغاني



دوکتور محمد سعید « سعید افغاني » زموږ د هیواد مشهورعالم ، لیکوال ، مولف، استاد او اجتماعي شخصیت و چه تل یې د سولې ، ترقی ، ورورۍ ، برابرۍ او تفاهم لپاره مبارزه کوله، د دې نومیالي پوه دروند نوم هم په وطن کښې او هم د نړۍ په نورو هیوادونو کښې خپور او مشهور دی .

په دوکتورسعید افغاني باندې، د هغه د ژوندانه کلونه، په لوستلو، تدریس کولو،لیکلو، تالیف، موعظو او خطابو تیر شو، هغه به دسولې ، امنیت ، تفاهم، دوستي ، ورورۍ ، برابري ، اجتماعي عدالت او انساني کرامت لپاره په دم ، قدم او قلم مبارزه کوله .

دې پسې و چه د هیواد ملایان ، د علم طالبان او نورو خلک د نوی ژوندانه په مترقي لارو چارو پوه او منور ځوانان او روښانفکره زلمیان د دین له مبادیو سره آشنا شي او د ملې فرهنګ او دیني اخلاقو رعایت وکړی .

هغه یو ملي ، مترقي ، مذهبي شخصیت و چه تل د خلکو او اولس د ضرورت غوښتنو د ملاتړ په لیکو کښې دریدلي دی . په زلمیتوب کښې یی د ویښ زلمیانو له هدفونو څخه روحیه اخستی او دهغو ننګه یی کړی ده . په سفر کښې یی د خپل هیواد تاریخي او فرهنګي ویاړنی نورو اولسونو ته معرفي کړی دی .

د ژوندانه د یو خوالي په عمر یی د هیواد د خلکو د ملی دموکراتیک غور زنګ ملاتړ کړی دی او د دین د حقیقتونو د څرګندولو په ذریعه یی هغه ارتجاعي دسیسي افشا ء او شندی کړی چه زمونږ د خلکو ، وطن او نهضت په ضد وی .

د ژوند د پای په کلونو کښی یی د سراسری سولي او امنیت او ملي روغي جوړي د تامین لپاره یی هڅه کوله ، په هیواد او نړی کښی یی سوله او تفاهم غوښت او کاریی ورته کاوه .

دغه قطعه ما لیکی ده او د دوکتور سعید افغاني د شناختی د مرمرو په ډبره کنیدل شوی ده :

په لوستلو ، لو لو او لیکلو<br>
د پوهنی د ډیوی لاندی کارونه<br>
فضیلت او شرافته سره تیر شول<br>
په( دوکتورسعید افغاني ) دری شپیته کلونه

« دوکتور سعید افغاني » د ابجد په حساب « ۱۹۲۲» کیږی ، چه دا د نوموړی د تولد میلادي کال دی . هغه « دری شپیته کلونه » ژوند تیر کړي دي چه د اسلام د پیغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و سلم د ژوندانه له کلونو سره برابر دی .

چه پر « ۱۹۲۲ » باندی « ۶۳ » واچوو بیا نو « ۱۹۸۵ » تري جوړیږي او دایی د وفات میلادي کال دی.

خدای دی یی وبخښي

عبدالله بختاني « خدمتګار »<br>
خیرخانه مینه ـ کابل

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org